لومړۍ مقاله

م . ا . کرګر

# ټولنپوهنيز – کلتوري بحث

ملا دروحانيت اوجومات نه په جلا تله کې
شرقي فرهنګ ديو ډول روحاني اومعنوي ارزښتونو مجموعه ده ۰
داسلام سپيڅلي دين دافغانانو په



فرهنګ اوټولنيز ژوند کې ژورې ريښې
لري اويا په بل عبارت ټوله بوده
اوتنسته يې له اسلامي عالي ارزښتونو
جوړه ده ۰ زموږ په هيواد کې داسلام
مقدس دين دعلم پوهې، ترقۍ اوتعالی
له پاره مثالي اونمونه يې ارزښتونه
را منځ ته کړي دي ۰ اسلام اواسلامي
مناسك دپرديو په وړاندې تل زموږ دخلکو اواولسونو ديووالي
اوپاڅون له پاره دالهام منبع وه ۰
دعلم اوپوهې په برخه کې موږ وينو چې زموږ په هيواد کې
داوږدې کورنۍ جګړې وروسته دشلمې پيړۍ په سر کې مدرن تعليم
رواج شو چې دحبيبې ليسې په پيل سره پيل شو ۰ له هغه دمخه
زموږ دهيوادزياتره پوهان اوعالمان عارفان اوصوفيان ، فلاسفه
اوحکيمان ، شاعران اواديبان داسلامي زده کړو له مرکزونو ،
مدارسو اوجوماتونو څخه راوتلي دي ۰
وايي چې دهارون الرشيد اومامون الرشيد په وختونو کې
دبغداد په نسبت په بلخ کې دمدارسو شمير زيات و ۰ اوددغه

مدارسو نصاب هغه مهال يوازي په ديني علومو پوري محدود نه و ،بلکې ټول مضامين اوعلوم په کې شامل و ۰
زموږ په هيواد کې په کليو اوښارونو کې جامع جوماتونه دټولنيزو پريکړو مرکزونه دي ۰ دغه راز مسجدونه دعلم اوپوهي دزده کړي مرکزونه هم دي ، زموږ دهيواد ډير نامتو پوهان له همدغه جوماتونو څخه را پورته شوي دي ۰

خو پر دې ټولو سربيره چې ملې اسلامي ارزښتونو زموږ دهويت په ساتلو اوکره کولو کې مهم رول لوبولی دی ، دناپوهو اودپرديو سازمانونو له خوا داستخدام شويو ملايانو ډير بد تصوير زموږ په فرهنګ اوادب کې پرې ايښې دی ۰
زياتره څيړونکي دملا په اړوند يو خاص تفسير لري چې البته داسلامې زده کړو ،پوهي اواصولو څخه جلا دی ۰ دملا په اړوند دغه تصوير دروحانيت دموسسې په باب تصور نه دی ، بلکې دروحانيت له موسسې څخه دناوړه ګټه اخيستنې اوناسمو تعبيراتو په باب تصوير دی ۰

دپښتنو ټولنه په اوسنيو شرايطو کې يوه تيت پرك اوخوره وره پرته ټولنه ده دټولنيز اقتصادي ودې نشتوالي ددې سبب شوی دی چې يو ډول نه تواميت اونه انتيګريشن موجود اولاسبری وي ۰
خو هغه څه چې په عامه سطحه کې په ټولو پښتنو کې څه که دليکې اخوا ته اويا په افغانستان کې دي شريك دي چې هغه پښتو ژبه اوپښتنولي ده ۰ پښتو اوپښتنولي ددوی ديووالي اونږديوالي عمده فکتور دي ۰

دانګلیسي پوه والتر بیلو H.W. Bellew په قول چې په
نولسمه پیړۍ کې دپښتنو دټولني دبیلابیلو قشرونو اوډلو
څیړنه کوي اود A GENERAL REPORT ON THE YUSUFZAIS
په نوم اثر يې کښلی د ،دروحانیت په باب وايي :

روحاني دملا طبقه (کلاس) ، یا دروحانیت نظم )) داستانه دار
څخه توپیر لري ، په دې کې چې دا دروحانیت یوه فعاله کتله
ده ٠ دمذهبې ژوند له پاره دنړۍ یا دونیا پریښودل په خاطر
دوې خپله انرژي داسلامي احکامو زده کړې اودرس ورکولو په
لار کې لګوي . استانه یا استانه دار کیدای شي خپل ځان
دمذهبې احکامو له پاره وقف او یا وقف نه کړي.له دې امله
ك‌ه دوی دا کار کوي دوی په اټکلی توګه خپل پلویان را
پورته کوي ٠ خو یو لوی اکثریت ورسره زیات خوښ وي ٠دوی
دونیايي ژوند په خوشالۍ اونیکمرغۍ سره پر مخ بیايي ٠ دوی
دمذهب له پاره خپل ژوند وقف کو ي. په ټولنه کې ددوی کلاس
اوس دپاملرنې وړ دی .ملا په څلورو کاتیګوريو ( برخو) کې
پیژندل کیږي ٠ امام - ملا - شیخ - اوطالب العلم ،
امام په ساده توګه یودجماعت مشر دی چې په جومات کې را
ټولیږي ٠ یا جماعت ورته ویل کیږي ٠همدارنګه رسمي دنده لري
دجومات په اړوند په لمانځه کې رومبنی مقام لري اوپه ځینو
مواردو کې قران لولي اوهغه تشریح
کوي . هر جومات خپل امام لري یا پیشوا ورته ویل کیږي ٠
دفتر اولقب دواړه ورته میراثي دي ٠
ملا یو معمول روحاني دی ٠ په عمومي توګه څو ډوله اړیکي دهر
جومات سره لري ٠ هغه اذان کوي ٠ لمونځ ورکوي ، اوکله چې
امام نه وي دهغه په غیاب کې امامت کوي ٠ همدارنګه طالبانو
ته مذهبي درس ورکوي ٠ دلمانځه ورکولو شکل داسلامي

دوکتورین په اساس اودکلي ماشومانو ته درس ورکوي چې ځرنګه دلمانځه ډولونه زده کړي .همدارنګه دوی اکثرا دامامت په چوکاټ کې بریالي دي ٠ لقب اودنده اکثرا میراثي ده
خدای بخښلي کاندید اکادیمیسین ابراهیم عطایي لیکي :
(( مذهبي مشر ته ملا ویل کیږي ٠ ملا سربیره چې مسجد ساتي لمونځونه ورکوي ٠ دمړي دګور اوکفن خدمت هم کوي ٠نکاح تړي ٠ ملا دسپین پټکي په نامه په ننواتې کې هم ځي اوکله چې ددوو رقیبانو ترمنځ توده جګړه روانه وي نو ملایان قرانونه پر سر نیسي اودجګړې ډګر ته داخلیږي اوپه دې ډول جګړه بندوي ٠
کله کله په جرګو اومرکو کې اصلي غړیتوب اخلي خو په لویو جرګو کې ملا دجرګې اصلي غړی نه وي ٠ بلکې ددعا له پاره هلته ورځي ٠ په دغسې جرګو کې ملا له جرګو څخه لیرې کښيني اوکله چې جرګه فیصله صادروي نو ملا ته دعوت ورکوي اوهغه دخیر دعا کوي ٠ دځینو جرګو په پای کې چې خیرات کیږي دهغه سرپرستي په منظم ډول دملا په لاس وي ٠ )) دپښتنو دقبیلوي حقوقي اصطلاحاتو قاموس ٠ ۲۵۶ مخ
په ورو کلیو کې یو اوپه لویو کلیو کې تر ځلورو پورې جوماتونه وجود لري ٠ دکلي خلک په ګډه سره دجومات له پاره ملا نیسي ٠ دکلي خلک ملا ته سړي سر ( نارینه چې لمانځه ته ځي ٠ ) داوړي اومني په درمندونو کې غنم جوار ، د(اړی ) یا امامتی په نوم ورکوي ٠ پردې برسیره ملا ته سرسایه ، خیرات ،زکات،شکرانه ، اوداوسیدلو له پاره کور یا کوټه هم ورکوي ٠ همدارنګه خلک دغم اوښادی په حالاتو کې دملا له پاره برخه هم ورلیږي ٠ ملا یوازې دخپل ځان اودکور دافرادو له پاره جامې اخلي چې په ځینو وختونو کې دکلي شتمن اشخاص ملا ته دجامو

داخیستلو له پاره نغدي پیسې هم وربخښي ۰ په کلیو کې ملایان دا دندې تر سره کوي ۰
۱. دکلیو دخلکو له پاره پنځه وخته لمونځ ورکوي ، اذان ورکوي ۰ اومذهبي احکام تبلیغوي ۰
۲.په جوماتونو کې ملایان نجونو اوهلکانو ته درس ورکوي اولمونځ ورزده کوي ۰ نجونې چې لږې غټې شي نو بیا جومات ته نه ورځي ۰ په جوماتونو کې دوه ډوله کسان درس وایي :
یو هغه کلیوال هلکان دي چې یا سهار دوخته اویا له ښوونځي وروسته جومات ته ورځي اوهلته مذهبي درس وایي ۰
بل هغه ماشومان یا هلکان دي چې په جومات کې په دایمي توګه مذهبې درس وایي ۰ دوي په لومړي قدم کې دچړي په نوم یادیږي ۰ دچړي دنده دا وي چې مشرو طالبانو اوملا ته دکلي دکورونو څخه ډوډۍ یا خواړه چې دېټوك یا چنډې په نوم هم یادیږي ، راټولوي ۰ همدغه چړیان چې کله لږڅه زده کړې اولږ لوي شي نو دطالب په نوم یادیږي ۰
ملا همدارنګه دنوي زیږیدلي ماشوم په غوږ کې داذان کولو دنده لري ۰ کله ناکله دم اوتعویذ ورکوي ، دقران مجید په ختم کې برخه اخلي اوختم کوي ۰ دمړي دتدفین اوتکفین مراسم اومذهبی مراسمو څارنه اوپالنه کوي ۰
(۲)-- ۲۰۸ مخ دپښتنو ټولنیز اقتصادي جوړښت
الفنستن چې دنولسمې پیړۍ په سر کې افغانستان ته راغلي اویو معتبر کتاب یې کښلی دی دملا په باب اودهغه دنقش په باب داسي یو تصویر وړاندي کوي وایي :
((په ټولنیز ډول دوی فعال اوپه نسبي توګه لایق کسان دي اودخپلې دلې دګټو ښه پروا ساتي اواحتیاط کوي چې خپل لوړ والي خوندي وساتي ۰ دوی دخپل ملك دډیرو برخو خاوندان دي ، دځوانانو روزنه دقانون تنفیذ اوپه ټول ملك کې دقضا اداره

چې دپاچا تر واك لاندي ده پوره دوی ته ورسپارل شويده اودغه امتيازات له هغه احترام سره يو ځای چې په ناپوهو اوخرافات خوښو خلکو کې ددوی دعلم په وجه دوی ته کيږي ،ملايان په دې قادر گرځوي چې په ځينو خاصو حالاتو کې په افرادو او ان داشخاصو په يوې ډلې باندې نږدې نامحدود قدرت ولري ۰
حاکمان اونور ملکي مامورين تر ځارنې لاندې ونيسي ، اوځينې وخت پخپله پاچا وبيروي اوزيان ورته ورسوي ۰ په مسلمانانو کې هغه وخت چې له شريعت نه خلاف کارونه کيږي له دغه قدرت ځخه بده استفاده کيږي ،خو په عين وخت کې زياتره وخت دملايانو له دغه نفوذ ځخه دمملکت په ډيرو برخو کې چيرته چې دعامه سولې دټينگولو له پاره نور وسايل وي دشخړو اودعوو په فيصله کولو کې په گټور ډول استفاده کيږي ، ۰ ددغسې مذهبې شخصيتونو لښکرې زياتره وخت دهغسې دود ، دولسونو په منځ کې له اوږدو چېنو سره ښکاره کيږي چې دجنگ له پاره تيار اواماده وي ۰ )) ۲۲۱ مخ دکابل سلطنت بيان دپيښور چاپ
الفنستن زياتوي :
له هغو ملايانو پرته چې ديني منصبونه لري ، يا له دولت ځخه وظيفې اومعاشونه اخلي ۰۰۰۰اوتر هغو لا ډير دکليو ملايانو ته چې دفصلونو يو ځه ورته ورکول کيږي اويا درمو گلو نه ورته يو ځه ورکول کيږي ډير نور ملايان دځمکو يوه برخه دبخشش په توگه په لاس کې لري ، چې يا يې پاچا يا يې دکليو مشران ورکوي ۰ اويا ځينې افراد يې دميراث نه ورپه برخه کوي .
ځينې نور ملايان دشرعي قانون په تدريس اوتمرين ژوند کوي ، نور يې په مکتبونو کې تدريس کوي اويا دشتمنو کسانو دزامنو شخصې معلمان وي ۰ ځينې نور يې دتبليغ په کار لگيا دي ۰
اواولس يې ژوند ورتامينوي ،ځينې په هغو اوقافي وظيفو ژوند

کوي ، چې دولت اوکلي يې شاګردانو ته ورپه برخه کوي چې دهغو په ملك کې سفر کوي اوځينې نور ملايان يا کوم کسب اويا دهقاني کوي ۰ اويا په خپلو نورو وسايلو خپل ژوند تامينوي اوپه خپله خوښه خپل تحصيل پر مخ بيايي اوسرګرمی لري .))
۲۲۳ مخ   همماغه اثر

نور بيا

رفقا، دوستان عزیزتارنمای **وطندار** ! لطفاً نظرات، پیشنهادات، انتقادات، مقاله ها، نوشته ها، مضامین و مطالب علمی و تحلیلی خود را جهتِ نشر به ادرس پوست الکترونیکی سایت بفرستید

admin@vatandar.at


مدیر مسوول : دیپلوم انجنیرعمر محسن زاده

mohsenzada@hotmail.com

صاحب امتیاز : انجنیرنجیب یوسفی

Najib_yousefi@hotmail.com



کلیه ی حقوق بر اساس قوانین کپی رایت محفوظ و متعلق به «وطندار» می باشد



برگشت به صفحه نخست

http://www.vatandar.at/

بقیه گزیده های مقالات انجنیرعبدالقادرمسعود

**http://www.vatandar.at/qadermasod**